# د حمید بابا او نجیب د شاعرۍ مقائسه

# A Comparision of the Poetries of Hameed Baba and Najeeb

پروفېسر ډاکټر زبېر حسرت *

## Abstract:

Najeeb is one of the ancient poets of the second period of Pashto literature whose date of birth and death is not confirmed yet. Whereas, a vague biographic sketch of him had already been traced out after his poetic collection was published by Pashto Academy Peshawar in 1972.Although Najeeb has mentioned the classic poets Rehman Baba, Khushal Khan Khattak but Hameed Momand. The author of this paper is of the view that though Najeeb seems to be the follower of Rehman Baba school of thought yet immense impacts of the poetry of Hameed Momand are also visible. The author through comparative study of their based on argumentative approach concludes that Najeeb had immensely benefited from the poetry of Hameed Momand.

د نجیب د پېدائش او وفات کلونه نۀ دي معلوم خو د دولسمې صدۍ شاعر دی ځکه چې دیوان یې په 1178هـ کښې د پښتو او پښتنو د لوی محسن میا محمد عمر صاحب د څوکنو د مشر زوی میا محمدي صاحبزاده په وېنا ګُل محمد پېښوري لیکلی دي چې په ژبه او ادب یې لوی احسان کړی دی. د نجیب په دیوان کښې د 1177هـ او 1178هـ دوه بېتونه چې د محسن نومې زلمي په وفات یې مرثیو کښې لیکلي دي دغه محسن په ځوانۍ کښې په ادیزو (د خلیلو مهمندو پېښور)کښې وفات شوی دی او له دغو شعرونو څنې داسې برېښي چې د نجیب زوی ؤ (خیال بخاري صاحب ورته د نجیب دیوان خپله دیباچه کښې د نجیب زوی نۀ دي وئیلي.) ځکه نو که مونږ نجیب هم د پېښور د ادیزو وګڼو نو بده به نۀ وي ولې هغۀ خپلو بېتونو کښې د خپلې قبیلې "غوري خېښي" ذکر هم کړی دی او د سړه بن په نسبت یې د "سربند" یا "سربندونو" یادونه هم کړې ده په دغه وجه ورته څنې محققین "نجیب سربندی" هم وايي خو د سربند یا د سربندونو ذکر د نجیب نه وړاندې رحمان بابا او حمید بابا هم خپلو شعرونو کښې کړی دی چې دغه علاقه ترې مراد ده. مرتب او مدون محترم خیال بخاري یې د سربند د تاڼې د موجودګۍ له کبله خلیل ګڼي دغه دیوان یې د پښتو اکېډیمۍ، پېښور یونیورسټۍ له خوا په اول وار په کال ۱۹۷۲ء کښې په شاهین برقي پرېس پېښور کښې چاپ شوی دی چې له دوؤ نسخو نه مرتب شوی دی. حالانکې هغه ځان ته د غوري خېښي او سړه بن نمائنده شاعر وئیلو کښې

* Director, Pakhtoonkhwa Study Centre, Bacha Khan University Charsadda

هېڅ باک نۀ ګڼي. نجیب لکه د رحمان بابا د خپل عمر د "پنجاه او پنج" (پینځۀ پنځوس) کلونو ذکر هم یو بېت نه څرګندوي او د "پیری" تذکره هم کوي نو که د یوې محتاطې اندازې مطابق مونږ د نجیب عمر پینځۀ شپېتۀ کلونو هم فرض کړو او وفات یې تخمیناً د 1180هـ خواوشا قیاس کړو نو د اتیا نه پینځۀ شپېتۀ منفي کولو سره یې د پېدائش تاریخ 115هـ خواوشا قیاسولی شو.

(والله اعلم بالصواب)

نجیب خپله شاعری کښې د خپلو درېو متقدمینو شاعرانو لکه د "خوشحال بابا، رحمان بابا، او فاضل" نومې شاعر ذکر کوي. بیا یې د خپلو معاصرو کامګار خان خټک، سکندر خان خټک، ملا سعید، محی الدین او سلیم نومې شاعرانو نومونه هم اخستي دي او د رحمان بابا نه علاوه خپلو معاصرو خصوصاً کامګار خان خټک، سکندر خان او سعید یا مُلا سعید ته سخت قهرېدلی هم ښکاري او خپله شاعرانه برتري پرې ثابتوي او زبادوي هم. څۀ هم که نجیب خپله شاعری کښې د رحمان بابا د مکتب شاعر برېښي او د رحمان بابا نامه یې هم اخستې ده ولې د حمید بابا د شاعری نه یې هم ښه ډېره استفاده کړې ده او څۀ هم که د حمید بابا نامه نۀ اخلي ولې بیا هم د حمید بابا په موضوعاتو، زمکو قافیه، ردیف او وزن بحر کښې د غزلونو موجودګي یې په دیوان کښې د دې خبرې غمازي کوي چې د نجیب په مطالعه کښې د نومړو شاعرانو پرته به د حمید بابا دیوان یا د شاعری څۀ برخه هم پاتې شوی وي او د خپلې دې خبرې د تصدیق د پاره یې زۀ د څنو هغو شعرونو راوړو هڅه کوم چې د حمید بابا د اثر لاندې لیکلي شوي دي. د هر دواړو شاعرانو شعرونه په ترتیب دا رنګ دي:

حمیدبابا: تل د اوښیو په اوبو کښې لره ترمخ
په دغه اوُبو کښې لید شي د ګوهر مخ
(دیوان۷۰مخ)

نجیب:و اشناؤ ته به هله شې مخ روښی
همېشه که تۀ لرې په اوښیو تر مخ
(دیوان۴۹مخ)

په دغه زمکه نجیب دوه غزلونه لیکلي دي.

حمید بابا: اندېښنه مې د هجران شوه په زړۀ پنډه
څکه ساه راځخه خېژي لنډه لنډه
چې ساتلی د چا زړۀ پۀ مېوه نۀ شي
ده تر سمې سروې ښه کړه ارهنډه

(دیوان ۱۷۸ـ ۱۷۹ مخ)

نجیب: چې تل کړم په اٰهو چشمو پسې منډه
ځکه ساه مې تر خولۀ درومي لنډه لنډه
چې مېوه د وصل نۀ لرې دلبره!
دغه قد قامت دې ځۀ کړم سروې شنډه
(دیوان۴۶. ۶۵ مخونه)

حمید بابا: بیا په ځۀ کاتۀ کاږۀ کاندي نګار نن
خدائې دې خبر و کا په باب زما افګار نن
بیا یې ځۀ نوی متاع په بازار راغله
چې یې واخست نوی کېنج نوی بازار نن
(دیوان ۱۴۸ مخ)

نجیب: دا چې هسې یار کنار ګرځي له ما نن
معلومېږي چې په خولۀ شۀ د اغیار نن
لکه ستا د حُسن رخت دی دلربا یه
دا رنګ رخت کله موندۀ شي په بازار نن

( دیوان ۱۷۸ مخ)

خیال بخاری په "دیوانِ نجیب" خپله دیباچه کښې لیکلي دي چې:
"خو نۀ پوهېږو چې نجیب سره د دې چې هغه د رحمان بابا ډېر معتقد دی د هغه ذکر ولې نۀ دی کړی. په ځنو شعرونو کښې یې د حمید بابا رنګ برېښي." (س. مخ)
خو زما په خیال چې وړاندې یې د "رحمان بابا" نامه خپله دیباچه کښې د نجیب د شعرونو د نمونو سره راوړې ده نو دغه جمله کښې د "رحمان بابا" نامه سهواً لیکلې شوې ده او پکار د "حمید بابا" نامه وه ځکه چې د حمید بابا په غزلونو یې خپل غزلونه لیکلي دي خو د نامې اخستو تکلیف یې نۀ دی کړی. خیال بخاري صاحب چې د حمید بابا او نجیب کومو شعرونو ته اشاره کړې ده، دا دي:

حمید: په ژړا د زړۀ دمه کړم ګنه چَوي
دی ودان دا پېښور په دا تیراه

نجیب: چې مې تل پکښې باران د اوښیو وورې
نۀ پوهېږم پېښور دی که تیراه

د حمید بابا اشاره باړې ته ده چې د باړې په اوبو د پېښور خاوره اباده ده او باړه د تیراه نه راځي، دغه شان د حمید بابا یوه مصرع ده:

خط پر مخ د صنم راغلی، که سپوږمۍ شوه په هاله کښې

هم دغه خیال نجیب هم څرګند کړی دی:

په رُخسار د اشنا خط راغی نجیبه!
حق حیران یم که سپوږمۍ شوه په هاله کښې

(خیال بخاری، دیباچه ) دیوان نجیب: س. ع مخونه )

د حمید بابا د دې شعر خیال (چې علي خان هم موزون کړی دی )

څوک به څۀ اخلي بوسه له هغه مخه
چې رُخسار یې په نسیم د سحر خوږ شي

(در او مرجان، ۲۴۸ مخ)

نجیب معنوي طور داسې موزون کړی دی چې:

هسې شان زما د یار لطیف رُخسار دی
چې شمال وربانديې هم ږدي پرهرونه

(دیباچه ف مخ)

ګنه د نجیب په دیوان کښې په ۲۹۱ مخ یو غزل هم د حمید بابا په وزن، بحر، قافیه او ردیف هم لیکلی دی چې مطلع او دوه نور بېتونه یې داسې دي:

د هجران له ډېره درده مې سر خُوږ شي
سر لا څۀ چې مې دلبره! ځیګر خُوږ شي
ښکلول بیا ستا د سترګو د تېغ غواړي
په تَبلو د طبیب مې پرهر خُوږ شي
تېغ د سترګو دې په مخ وي تل ؤکښلی
په کاتۀ مې ورته ځکه نظر خُوږ شي

(دیوان نجیب۔ ۱۹۱ مخ)

د حمید بابا د غزل مطلع او ځنې هم خیال شعرونه د نجیب د شعرونو سره داسې هم لُولُو:

د ناصِح له نصیحته مې سر خُوږ شي
لا مې زیات له دې تَبلو پرهر خُوږ شي
تېغ بازي يې د غمزو کېږي په مخ کښې
په نظر د ترکو ځکه نظر خُوږ شي

(در او مرجان۔ ۲۴۷ مخ)

پورتنۍ مطلع کښې د قافيې "سر" په ځای سهواً "زړۀ" ليکلی شوی دی چې د کاتب د ټاېپنګ غلطي برېښي.

څنګه چې حمید بابا لکه د رحمان بابا خپلو ځنې شعرونو کښې "سربندونه" د "سربند علاقې" په معنيو ستائيلي دي، دغه رنګ نجیب هم ياد کړي دي. د حمید بابا يو شعر د نمونې په طور:

د حمید په څېر بلبل به پکښې نۀ وي
که ګُلزار په ښکليو نۀ وی سربندونه

(در او مرجان ۲۴۷ مخ)

او نجیب هم سربندونه داسې ستائې:

زۀ نجیب ترې وتی ځکه چرته نۀ شم
چې اِرم، ماوا، فردوس شو سربندونه

(ديوان. ۱۷۴ مخ)

د بل يو غزل مقطع کښې يې داسې ستائينه کوي:

په عوض کښې که اِرم څوک و ما راکه
وربه نۀ کړم زۀ نجیب پرې سربندونه

(ديوان. ۱۷۹ مخ)

او د حمید بابا د شعر سره هم خياله مقطع کښې نجیب د پېښور ستائېنې سره خپله شاعرانه تعلي دا رنګ کوي چې:

ډک يې چې دی شعر تمامي له نزاکته
نشته د نجیب په څېر شاعر په پېښور کښې

(ديوان ۱۰۵ مخ)

د نجیب په دغه شعر خیال بخاري صاحب خپله رائې داسې څرګنده کړې ده:

نجیب لکه چې د برني شعر نه یې څرګنده ده نهٔ یوائې د پېښور بلکې ځان د خپل وخت د سړبني شاعرانو نمائنده هم ګڼي. (دیباچه، ف مخ) او دا خبره یې تر څهٔ حده صحیح هم ده ځکه چې نجیب د پېښور یا سړبن د خپل وخت شاعر دی.

د حمید بابا د غزل مطلع او دوه شعرونه داسې لولو چې ورسره د نجیب شعرونه مقائسه کړو:

که د غم په ډبلو شم رېز مرېز
نهٔ مې صبر شي له ښکلیو نهٔ پرهېز
چې نظر په نوخېز حسن کړم د ښکلیو
راته هېڅ شي د بهار د ګلو خېز
په سینه زما سیده کړي هزار غشي
چې په قهر راته و ګوري تېز تېز
په دعا به ځنې څهٔ لره غُښتهٔ چا
که کنځل د ترکو نهٔ وی شهد آمېز

(در او مرجان. ۹۰ مخ)

او د نجیب دا لاندیني بېتونه د حمید بابا د دغو خیالونو سره ډېر یو شان والی لري:

د ښکنځلو په رقیب مهٔ کړه مکېز
مه سپاره و دغه خرهٔ ته دا پالېز
چې بې تا چرې ګل ګشت کوم صنمه
هر یو ګل تر خاره لګي په ما تېز
بې جواله به دې وصل واخست نهٔ شم
هسې شان آسیا د غم کړم رېز مرېز
چې هم غاړې له رقیبه سره راغی
راکوي اشنا عسل زهر آمېز

(دیوان. ۸۷ مخ)

لکه وړاندې خیال بخاري صاحب د حمید بابا او نجیب شعرونو مقائسه کښې مو لوستي دي هم په هغه زمکه د حمید بابا د دغه مشهور غزل په زمکه نجیب خپله طبع داسې ازمائیلې ده چې:

چې دې خط په رُخسار راغی، اوس دې لا حُسن افزون شهٔ
هم په دا چې ډېر زینت که، چې شي بدر په هاله کښې

(دیوان. ۹۹ مخ)

په کومه زمکه چې حمید بابا دوه غزلونه لیکلي دي لکه د یو غزل مطلع یې دا ده:

همه عمر ولاړ بنۀ یم په سرۀ اور کښې
نۀ بې یاره د شاهۍ په شر او شور کښې
(در او مرجان. ۲۶۲ مخ)

او د دویم غزل مطلع یې دا ده:

که و کاږي مې څوک سترګې په پېغور کښې
یا مې سر له تنه ځي د عشق په تور کښې
(هم دغه مأخذ)

نو له دغو دواړو غزلونو په تتبع کښې نجیب یو غزل لیکلی دی چې مطلع او مقطع یې داسې دي:

سمندر غوندې که سوځم تل په اور کښې
خوښ یم ستا د عاشقۍ په شر و شور کښې
سعادت یې زۀ نجیب ګڼم دِلبره
که بندي شم چرې ستا د عشق په تور کښې

(دیوان ۱۰۱ مخ)

بیا خصوصاً د حمید بابا دا بېت یې خو د خپل غزل زینت ګرځولی دی چې:

د خوبانو هلک غم به یې زور زوم کړي
چې رستم د زمانې وي په خپل زور کښې

(در او مرجان ۲۶۳ مخ)

نجیب داسې وئیلي دي چې د دواړو بېتونو مضمون او موضوع څۀ چې ټکي هم یو شان لیدی شي:

دغه زور به دې د هجر اندوه زوم کړي
که رستم ګڼې هلک تۀ په خپل زور کښې

(دیوان ۱۰۱ مخ)

د حمید بابا په در او مرجان د "ښ" پټې کښې د یو غزل مطلع او یو بېت داسې لولو چې:

آهو چِشمو چې یې زړۀ په افسون وکېښ
هغو سر له ودانۍ په هامون وکېښ

دا يې ښاخ د ګلو سره په تلوار پرېکړۀ
که د زړۀ سره مې ترکو لړمون وکېښ

(در او مرجان ۹۷ مخ)

او هم په دغه زمکه او مضامينو نجيب هم خپل بېتونه داسې موزون کړي دي چې:

چې مجنون غوندې چا سر په هامون وکېښ
له جګره هغۀ تير د بېلتون وکېښ
اوس به ؤمرم د صحت اُميد مې نۀ شي
چې دلبر له ما نه زړۀ و لړمون وکېښ

(ديوان ۱۰۲ مخ)

د حميد بابا د غزل مطلع ده چې:

ښۀ مې وکاتۀ خوبان د هر طرف
په يوۀ مې نۀ شۀ غم ستا برطرف

(در او مرجان ۱۱۵ مخ)

او نجيب سېوا د دغه مطلعې په پېروی کښې د خپل غزل مطلع هم دغه شان ليکلې ده خو د قافيې التزام يې نۀ دی ساتلی او پاتې ټول غزل د "هر طرف" او "برطرف" په ځای فقط په " صدف، کف او مشرف" غوندې قافيو اډانه دی او داسې غزل غېر مردف شوی دی. د نجيب مطلع دا ده:

که شي جمع حکيمان د هر طرف
درد د مينې به مې نۀ کړي بر طرف

(ديوان ۱۲۹ مخ)

د حميد بابا د غزل مطلع او بيت داسې دي چې:

که شاهان و تخت و تاج ته لري شوق
عاشقان تاخت و تاراج ته لري شوق
نۀ دی هسې زيان من رنځ د عاشقيه
چې رنځور يې و علاج ته لري شوق

(در او مرجان ۱۱۹ مخ )

او هم په دغه زمکه او موضوعاتو د نجیب مطلع او یو شعر داسې لولو چې:

ځوک چې ستا د وصل تاج ته لري شوق
هغه ګوره و معراج ته لري شوق
چې د عشق په درد دردمن وي صادق نهٔ دی
چې د دې مرض علاج ته لري شوق

(دیوان ۱۳۴ مخ)

د حمید بابا د غزل مطلع او دوه شعرونه داسې لولو چې پرې علي خان او ورپسې نجیب طبع ازمایی کړې ده:

ربه! فهم کړې د یار راته په ښو
و مې ژغورې د رقیب له خرخښو
هم په دا چې د عشق اور چرې زر لګي
دا زما صورت ګېډی کړه د وښو
د اشنا د عشق توبرې زما زړګی شهٔ
کړلی نهٔ شم ځکه حکم په وُکښو
رغړوي مې زمانه له محتاجیه
لکه سپی د چواړي رقیب په پښو

(در او مرجان ۱۵۵ـ ۱۵۶ مخ)

او نجیب پرې خپله طبع داسې ازمائیلې ده:

که شي نیت د دلربا راته په ښو
نور به خلاص شم د رقیب له خرخښو
لګ د ستا د بڼو تیر زما په زړهٔ دی
ځنې مرم چې قصد یې و کړم د وُکښو
یار بخښنه کله که زما د جُرم
لکه سپی که یې سر مړم تل په پښو

( دیوان ۱۸۶ مخ)

او د حمید بابا د غزل د مطلعې نه پس د اول شعر مضمون نجیب داسې مقطع کښې راوړی دی چې:

اور د هجر د نجیب زړۀ هسې وسوۀ
لکه پورې کاندې اور څوک په وښو

(هم دغه مأخذ)

د حمید بابا د غزل مطلع او دوه شعرونه د نجیب د شعرونو سره ګورو چې نجیب ترې څنګه استفاده کړې ده ؟

معلومېږي ستا د سترګو له غمزو
چې يې مرګ د تېرۀ تېغ دی راپېرزو
رُستمان د صبر زهد ستا په عشق کښې
نڅول شي در په در لکه بيزو
چې دې زۀ په تش ليدۀ وځم له عقله
څۀ حاجت د زياتي زور د ستېزو

(در او مرجان ۱۵۹ مخ)

نجیب يې پېروي او تتبع داسې کړې ده چې:

که هر څو ترې زۀ د وصل کړم ارزو
د يار کله دی په ما وصل پېرزو
دِل ودين په يو نظر له ما يار يوړۀ
لهَ توانا سره څۀ کار د ستېزو
عاشقان يې تماشه کاندي نجيبه!
يار که لوبې په رقيب بيزو

(ديوان ۱۸۶.۱۸۷ مخونه)

که څۀ هم دغه بېتونو کښې د حمید بابا او نجیب شعري مضامين يو نۀ دي ولې د غزلونو د زمکو، قافيو او رديفونو مماثلت يې ډېر څرګند دی او بيا دواړه غزلونه هم دي. د حميد بابا او نجيب يو بل غزل هم په يوه زمکه او قافيه، رديف داسې لولو چې حميد بابا وايي:

چې په مخ دې د خط ليکه دوتا راغله
ګويا مخ لره دې توره بلا راغله

(در او مرجان ۲۰۶ مخ)

او نجیب هم په دغه زمکه وايي:

طائفه د رقیبانو په خوا راغله
نۀ پوهېږم که مې خوا له بلا راغله

(دیوان ۲۱۱ مخ)

د حمید او نجیب د ډېرو غزلونو او د زمکو او قافیو، ردیفونو یو شان والي سره د دواړو په دواوینو کښې ګڼ شمېر داسې غزلونه موندی شي چې ځنو ځنو ځایونو کښې يې د خیالاتو مطابقت هم پېدا کېږي له هغو ځنې یو څو نور. حمید بابا وايي:

که مې ولي په سر کاڼي سل مني
زما خوښه ده د یار کبر او مني
محبت شُدني کار ؤ په ما وشۀ
نور دې نۀ شي په هېڅا دا شدني
د حمید د ساده شعر کمال ګوره
چې شمله شۀ د تمام سرِه بني

(در او مرجان ۲۳۶، ۲۳۷ مخونه)

او نجیب وايي:

تا چې بیل کړم له همدمه زۀ رقیبه
په تندي دې پرېوځه کاڼی سل مني
چې تمام عالم و ده وته محتاج دی
ښايي دا که یار کوي کبر او مني
د ختکو شاعران نقشِ دیوار شي
چې پرې راشي شاعرانِ سرِه بني

(دیوان ۲۹۱، ۲۹۲ مخونه)

له دې بېته په دیوان کښې وړاندېنی شعر وروستو لیکلی شوی دی خو ما د حمید بابا د شعرونو سره د تطابق پېدا کولو په غرض وړاندې وروستو کړ، بل په وروستي بیت کښې نجیب د ختکو شاعرانو ته کم نظر کړی دی. داسې ډېر مثالونه يې دیوان کښې موندی شي چې د ستر خوشحال بابا، سکندر خان ختک او کامګار خان ختک او داسې نورو په جواب کښې يې شاعرانه استقبال کړی دی

چې د خپلې شاعرانه تعلې او برترۍ خبرې يې په کښې کړې دي او د خيال بخاري صاحب خبره چې دا د هغې زمانې يو دود او دستور ليدی شي او بد به پرې نۀ شو منلی:

د حميد بابا او نجيب (د سربند اديزو) د دغه شعري تقابل نه مونږ په دې نتيجه رسو چې دا شاعرانه توارد نۀ دی او نۀ غېر شعوري دغه زمکې، قافيې، رديفونه، مضامين، موضوعات او خيالونه د نجيب ذهن ته راغلي دي. څنګه چې کاظم خان شېدا، علي خان، حميد بابا او نورو ډېرو شاعرانو خپل ديوانونه د ميا محمدي صاحبزاده په وېنا مرتب کړي، ورلېږلي او هغوی په خپل معاصر ګُل محمد پېښوري کاتب ليکلي دي نو دغه رنګ نجيب هم خپل ديوان په ۱۱۷۸هـ کښې د ميا محمدي صاحبزاده په وېنا مرتب کړی ورلېږلی دی. دغه رنګ د نجيب په مطالعه کښې د خوشحال بابا، رحمان بابا، کامګار خان خټک، عبدالقادر خان خټک، محي الدين او سليم او داسې نورو شاعرانو ديوانونه او نومونه راغلي دي نو ضرور مونږ په دې خبره مجبوروي چې نجيب به د خپل نزدې کلي وال حميد بابا ديوان يا د ديوان څۀ برخه ضرور لوستي وي، اثر به يې ترې اخستی وي او دانسته طور يې د هغوی په زمکو خپل غزلونه ښائسته او مُزيّن کړي دي. دې لړ کښې به د عظيم شاه خيال بخاري د ديباچې دا اقتباس بې ځايه نۀ وي چې زما د پورتنيو معروضاتو مرسته کوي:

"د نجيب د ديوان په لړ کښې د پښتو ژبې يو ډېر لوی مُحسن نوم هم مخې ته راځي او هغه د څوکنو د ميا عمر صاحب مشر زوی صاحبزاده محمدي دی (رحمهم الله) صاحبزاده محمدي که يو خوا ته يولوی عالم ؤ او په يو ډېر لوی مسند ناست ؤ خو بل خوا يو ډېر لوی شاعر هم ؤ او صرف شاعر نۀ بلکې د علم، ادب او د شعر يو ډېر لوی مُحسن هم. د بد امنۍ، لاقانونيت او د خطرونه دغه ډک وخت کښې به ښۀ ښۀ عالمان اديبان او شاعران د هغۀ په مجلس کښې په امن او په سکون ناست وو او ښۀ قدرداني به يې کېدله. د صاحبزاده محمدي د علم او ادب د قدردانۍ يوه غټه کارنامه دا ده چې هغۀ تقريباً د ټولو لويو لويو او مشهورو شاعرانو کلام راجمع کړۀ او په خپل يو عقيدتمند خطاط ګُل محمد پېښوري يې خوشخطه وليکه." (د نجيب ديوان، ديباچه۔ز مخ)

دلته خيال بخاري صاحب په حاشيه ليکلی دي چې:

"افسوس دی چې د شعر و ادب د دې لوی محسن خپل ديوان لاتراوسه نۀ دی پېدا شوی".

(هم دغه مأخذ)

دا خبره يې د دغه ديباچې تر ليکلو صحيح وه خو د پښتو ژبې او ادب د دغه لوی محسن ديوان "د محمدي صاحبزاده ديوان" په نوم قلندر مومند صاحب ترتيب کړی او د خپلې مقدمې سره د چاپ ځای پېښور نه په 1985ء کښې په اول ځل چاپ کړی دی او انتساب يې د رهورنډ لوينتال په نامه کړی دی چې دا د قدر وړ ديوان يې د پښتنو د پاره محفوظ ساتلی ؤ." (ديوان۔ج مخ)

***

# حوالې


(1) مومند ، عبدالحمید ، دُر او مرجان (د عبدالحمید مومند دیوان) ترتیب او تدوین، سید تسنیم الحق کاکا خېل، یونیورسټي بُک اېجنسی پېښور چاپ.

(2) نجیب، دیوان، مرتب خیال بخاري، پښتو اکېډیمي، پېښور پوهنتون چاپ.

(3) صاحبزاده، محمدي، د محمد صاحبزاده دیوان، ترتیب او تدوین: قلندر مومند ، د چاپ ځای کوهاټ روډ پېښور چاپ.